د کابل پوهنتون د ټولنیزو علومو علمي- څېړنیزه مجله
مجله علمی- تحقیقی علوم اجتماعی پوهنتون کابل
Journal of Social Sciences - Kabul University
e-ISSN: 3078-557X P-ISSN: 3078-6657

# د بېوزلۍ او وزګارۍ لاملونه او د اسلامي اقتصاد حللارې

**پوهنوال دکتور خواجه محمد عصامي**

د اسلامي ثقافت ډیپارټمنټ، د شرعیاتو پوهنځی، کابل پوهنتون، کابل، افغانستان

برېښنالیک: khuwajahmuhammad@gmail.com

**لنډیز**

دغه څېړنه د بېوزلۍ او وزګارۍ د لاملونو ژور تحلیل وړاندې کوي او د اسلامي اقتصاد له اصولو څخه په استفادې سره ورته اغېزمني او شرعي حللارې وړاندې شوې دي. موضوع له دې امله ارزښت لري چې بېوزلي او وزګاري نه یوازې اقتصادي ناخوالې دي، بلکې د ټولنیزې بې‌ثباتۍ، جرمونو زیاتوالي او د انساني کرامت د ورلو عمده لاملونه هم ګڼل کېږي. د بحث څېړنې کړنلاره تحلیلي- توصیفي ده، چې په کې د بېوزلۍ لاملونه له شرعي، اقتصادي او ټولنیزو اړخونو څېړل شوي. وروسته د اسلامي اقتصاد د سرچینو لکه زکات، وقف، قرض، مضاربت او مشارکت له لارې عملي حللارې بیان شوې دي. د بحث پایلې دا دي چې د ټولنیز عدالت لپاره د زکات او وقف مؤسسو فعالول مهم ګام دی. اسلامي تمویلي میکانېزمونه د بېوزلۍ ضد مبارزه کې اغېزمنه وسیله ده. د حرفوي مهارتونو پراختیا او د عوایدو عادلانه وېش د اقتصادي توازن بنسټیز اصل دی.

**آرويیونه:** اسلامي، اقتصاد، وزګاري، حللارې

# The Causes of Poverty and Unemployment and the Solutions of Islamic Economics

**Khuwajah Muhammad Esumi**
Department of Islamic Culture, Faculty of Sharia, Kabul University, Kabul, Afghanistan
Email: khuwajahmuhammad@gmail.com

**Abstract**

This academic discussion provides an in-depth analysis of the causes of poverty and unemployment, offering effective and Sharia-compliant solutions based on the principles of Islamic economics. The topic is valuable because poverty and unemployment are not only economic issues but also major causes of social instability. The methodology used is analytical-descriptive, in which the causes of poverty and unemployment are examined from religious, economic, and social perspectives, followed by practical solutions derived from Islamic economic resources. The main findings of the discussion are that activating Zakat and Waqf institutions is an essential step toward social justice, Islamic financial mechanisms are an effective tool in the fight against poverty, the development of vocational skills is a key aspect of solving unemployment, and the fair distribution of income establishes the foundation for economic balance. Thus, Islamic economics offers a well-organized and balanced approach, which, if implemented in practice, could eliminate poverty and unemployment for good and create a just society.

**Keywords:** Islamic; Economic; Unemployment; Poverty; Solutions

ارجاع: عصامی، خ. م. (۱۴۰۴). د بېوزلۍ او وزګارۍ لاملونه او د اسلامي اقتصاد حللارې. د کابل پوهنتون د ټولنیزو علومو علمي- څېړنیزه مجله، ۸(۱). ۶۳-۷۷. https://doi.org/10.62810/jss.v8i1.289

**سریزه**

بېوزلي او وزګاري د ټولنې له جدي اقتصادي ستونزو څخه شمېرل کیږي، چې نه یوازې د افرادو ژوند اغېزمن کوي، بلکې د ټولنیز ناورین، جرمونو، فساد او اخلاقي انحطاط سبب ګرځي. د نړۍ اقتصادونه د دې ستونزې د حل لپاره بېلابېلې لارې لټوي، خو اسلامي اقتصاد یو بشپړ، متوازن او عادلانه حل وړاندې کوي، چې د زکات، وقف، صدقات، سوداګرۍ، حلال عایداتو او ټولنیز عدالت له لارې دا ستونزې له منځه وړي (القرضاوي، ۱۹۹۹، ص ۳۵). بېوزلي او وزګاري د بشري ټولنو له سترو ټولنیزو، اقتصادي او اخلاقي ننګونو څخه شمېرل کېږي، چې نه یوازې فردي ژوند له ستونزو سره مخ کوي، بلکې د ټولنې ثبات، امنیت او پرمختګ ته هم جدي ګواښ دی. دا دواړه پدیدې، یعنې بېوزلي او وزګاري، یو له بله سره ژوره اړیکه لري او ډېر مهال یو لامل د بل د زیاتوالي سبب ګرځي. په اوسني وخت کې، که څه هم بشري تمدن د پرمختګ لوړو پوړیو ته رسیدلی، خو بیا هم د نړۍ په ډېرو برخو کې د بېوزلۍ کچه لوړه ده او وزګارۍ پراخه بڼه غوره کړې ده. افغانستان او ورته نور اسلامي هېوادونه هم د دغو دوو پدیدو له ناوړو اغېزو سره مخ دی، چې د دې وضعیت دوام نه یوازې اقتصادي کړکېچونه زېږوي، بلکې د ټولنیزو ناخوالو، فکري انحرافاتو او اخلاقي فساد جرړې هم پیاوړې کوي (الندوي، ۱۹۸۹، ص ۱۱۲). په اسلامي شریعت کې اقتصاد یوازې د مال راکړې ورکړې او سوداګرۍ په معنا نه دی، بلکې دا د ټولنیز عدالت، بشري کرامت او ګډېخیر بنېګڼې یوه مهمه آله ده (البوطي، ۱۹۹۸، ص ۴۱). اسلامي اقتصاد هڅه کوي چې د بېوزلۍ لاملونه له ریښو وباسي شي او ټولنه د داسې یوه سیستم پر لور رهبري کړي چېرې چې هر وګړی د خپل ژوند د اړتیاوو پوره کولو ته لاسرسی ولري او اقتصادي فعالیتونه د الهي اصولو په رڼا کې تنظیم شي. زکات، وقف، صدقات، بیت المال، عادلانه توزیع، حرامو معاملو مخنیوی او د کار کولو ارزښت ته هڅونه – دا ټول هغه اسلامي حللارې دي، چې د بېوزلۍ او وزګارۍ د حل لپاره ژوره فلسفه او عملي چوکاټ وړاندې کوي (ابن عابدین، ۲۰۰۳، ج ۲، ص ۲۰۴). دغه علمي څېړنه هڅه کوي چې د بېوزلۍ او وزګارۍ اصلي لاملونه تحلیل کړي، د اسلامي اقتصاد له نظره یې وڅېړي او د حللارو لپاره د اسلامي اقتصادي اصولو پر بنسټ یو اغېزمن او تل پاتې چوکاټ وړاندې کړي. څېړنه نه یوازې د اسلامي مفاهیمو علمي تحلیل ته پاملرنه کوي، بلکې هڅه کوي چې د عملي تطبیق وړ وړاندیزونه هم وړاندې کړي، څو د بشري ټولنو لپاره یوه عادلانه او متوازنه اقتصادي فضا رامنځته شي. د اسلامي اقتصادي نظام تطبیق او د بېوزلۍ او وزګارۍ د حل لپاره په افغانستان او نورو اسلامي هیوادونو کې لا هم کافي څېړنې نه دي شوې. د اقتصادي حللارو لپاره اسلامي اصول لکه زکات، وقف، اسلامي ملاتړ او د سودي نظام له منځه وړل د زیاتې پاملرنې وړ دي (القرضاوي، ۱۹۹۹،

ص ٨٦؛ البوطي، ١٩٩٨، ص ٥٤). په دې اړه څېړنې، چې د اسلامي اقتصاد ټولنیزې او اقتصادي ګټې تحلیل کړي، لا هم اړینې دي. د دې څېړنې ارزښت په دې کې دی چې اسلامي اقتصادي نظام د بېوزلي او وزګارۍ د حل لپاره ځانګړې حل لارې وړاندې کوي. دا څېړنه د اسلامي اصولو پربنسټ د اقتصادي ستونزو حل کې مرسته کوي، چې نه یوازې د بېوزلۍ او وزګارۍ کمښت، بلکې د ټولنیز عدالت او اقتصادي پرمختګ لپاره د اغېزمنو لارو په اړه پوهه وړاندې کوي. دا څېړنه د اقتصادي نظام په تطبیق، د اسلامي اقتصادي اصولو پلي کولو او د اسلامي هیوادونو د تجربو په برخه کې علمي تحلیل وړاندې کوي.

د څېړنې اصلي پوښتنه

اسلامي اقتصادي نظام څنګه کولی شي د بېوزلۍاو وزګارۍ د حل لپاره اغېزمنېحللارې وړاندې کړي؟

فرعي پوښتنې

١. د اسلامي اقتصادي نظام بنسټیز اصول کوم دي، چې د بېوزلۍ او وزګارۍ په مخنیوي کې مرسته کوي؟
٢. څنګه زکات، وقف او اسلامي ملاتړ کولی شي اقتصادي عدالت رامنځته کړي؟
٣. کوم اسلامي اقتصادي سیستمونه د بېوزلۍ کمولو لپاره غوره ثابت شوي؟
٤. څنګه د اقتصادي ستونزو د حل لپاره د سودي نظام له منځه وړل اغېزمنه لاره ده؟
٥. په اسلامي هیوادونو کې داسلامي اقتصاد پلي کولڅرنګه شوی دی اوکومې تجربې ترلاسه شوې دي؟

## د څېړنې کړنلاره

دا څېړنه د توصیفي او تحلیلي میتودونو پراساس پرمخ تللې ده، چې د فقهي اصولو او اقتصادي تحلیل په مرسته د اسلامي اقتصادي سیستم د اغېزمنتوب او تطبیق وړاندیزونه تر لاسه شوي دي. په دې ترڅ کې اړوند کتابونه او مقالې تحلیل او د هغوی معلومات د څېړنې لپاره کارول شوي دي. د تحلیل او ارزونې په مرحله کې د اسلامي اقتصادي سیستم د تجربو ارزونه او د بېوزلۍ کمولو لپاره د دې سیستمونو ګټې تحلیلولو ته پوره پام شوی.

## د څېړنې مخینه

اسلامي اقتصادي سیستم د بېوزلۍ او وزګارۍ د حل لپاره پراخې تجربې لري. د اسلامي اقتصاد بنسټونه لکه زکات، وقف، اسلامي تمویل او د سودي سیستم له منځه وړل د اسلامي ټولنو لپاره اقتصادي

عدالت ته لار هواروي. په تاريخ کې د عثماني خلافت، اندلس او عباسي دورو کې د اقتصادي سيستمونو د پلي کولو مهمې تجربې موجودې دي چې د بېوزلۍ کمولو لپاره خورا ګټورې وې. د اوسني وخت د اسلامي بانکونو لکه د سعودي عربستان، ماليزيا، ترکيې او پاکستان په څېر هېوادونو تجربې د اسلامي اقتصادي سيستم د اغېزمنتوب ننداره کوي.

۱. "اسلامي اقتصاد: تيوري او عمل" ليکوال محمد عمر شاپرا چاپ2000 : ټايمز پريس. دا کتاب د اسلامي اقتصاد تيوري او عمل ته بشپړه کتنه کړې ده. د بېوزلۍ او وزګارۍ د لاملونو په اړه ځانګړې څېړنې لري، په ځانګړې توګه د اسلامي اصولو پر اساس چې دا ستونزې په ټولنيز او اقتصادي کچه څنګه کمېدلی شي.
۲. "اسلامي اقتصاد: لنډ تاريخ"ليکوال، محمد اکرام خان، چاپ2003 : آکسفورډ يونيورسټي پريس. دا کتاب د اسلامي اقتصاد په تاريخي شاليد تمرکز کوي او د بېوزلۍ، وزګارۍ او اقتصادي نابرابرو لاملونو څخه بحث کوي. په دې کې د اسلامي اقتصادي نظام د تاريخي پلي کولو تجربې او د ټولنې د عدل پر بنسټ د بېوزلۍ د حل لپاره بېلابېلې نظريې وړاندې شوي دي.
۳. " په اسلامي نړۍ کې بېوزلي او دعايدو وېش " ليکوال محمد علي الجمال ، چاپ2006 : ټايمز پريس. دا کتاب د اسلامي نړۍ د بېوزلۍ او عايد وېش ستونزو په اړه مفصل تحليل وړاندې کوي. په کتاب کې د بېوزلۍ د اصلي لاملونو، د شتمنۍ غيرعادلانه ويش او د اسلامي اقتصادي حللارو په اړه د نظرياتو پر اساس حللارې وړاندې شوې دي.

اوسنۍ څېړنه د اسلامي اقتصادي نظام د بېوزلۍ او وزګارۍ د حل لپاره په عملي توګه د دې حللارو د تطبيق په برخه کې بحث اوڅېړنه کوي، په داسې حال کې چې پورته يادو کتابونه د نظرياتو او تاريخي تحليلونو پراساس بحث کړی دی او هغه اسلامي هيوادونو باندې بحث شوی چې عملا يې څنګه وکولای شول؛ چې د بېوزلۍ او وزګارۍ ګراف په خپلو هيوادونو کې راکم کړي؛ لکه ماليزيا، اندونزيا، ترکيه، سنګاپور او دې ته ورته نور هيوادونه.

***د بېوزلۍ او وزګارۍ لاملونه***

**اقتصادي لاملونه**: په اسلامي اقتصاد کې د شتمنيو غيرعادلانه ويش يوه جدي ستونزه بلل کېږي، ځکه چې اسلام د شتمنيو عادلانه ويش ته ډېر اهميت ورکوي. الله تعالی په قرآن کريم کې فرمايي:﴿كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً بَيْنَ الْأَغْنِيَاءِ مِنْكُمْ﴾ (الحشر: ۷) ژباړه : (تر څو دا (مال) يوازې ستاسو د شتمنو ترمنځ لاس پر لاس نه شي) . دا آيت د دې مفکوره تاييدوي چې په ټولنه کې شتمني بايد په عادلانه ډول ووېشل شي، نه يوازې د لږ شمير شتمنو کسانو ترمنځ. که شتمني يوازې د څو کسانو په لاس کې وي، نو دا به

د ټولنې پراخې طبقې، په ځانګړي ډول به بېوزله، د بېوزلۍ او وزګارۍ له جدي ګواښ سره مخ کړي. ربوي نظام او سودي اقتصاد د بېوزلۍ په زياتولو کې مهم رول لري. سود د پانګوالو شتمني زياتوي، خو له بلې خوا د بېوزلو ژوند خرابوي. په دې اړه الله تعالى داسې فرمايلي دي:﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَأْكُلُوا الرِّبَا أَضْعَافًا مُّضَاعَفَةً﴾ (آل عمران: ۱۳۰) ژباړه : ( ای مؤمنانو! سود (ربا) مه خورئ، هغه سود چې څو چنده زيات شوی وي.) دا آيت د سود د جواز نه شتون خبرداری ورکوي، چې د شتمنو خلکو د پانګې زياتوالی يوازې دوی لا شتمن کوي او د بېوزلۍ په راتګ کې مرسته کوي.په سودي نظام کې، د بېوزلو لپاره د عادلانه امکاناتو برابرول ستونزمن کيږي، چې دا بيا د ټولنې د اقتصادي ناانډولتوب سبب ګرځي. اسلامي سوداګري د مشروع عايدو يوه غوره وسيله ګڼل کيږي؛ خو که خلک د اسلامي اصولو څخه پيروي ونه کړي احتکار، درغلې او حرامې سوداګرۍ ته مخ کړي؛ نو دا به د اقتصادي ناانډولتوب او بېوزلۍ لامل شي. اسلامي اقتصاد د داسې کاروبارونو پر وړاندې د جدي عکس العمل غوښتنه کوي، چې له دې سره د ټولنې بېوزله کسانو ته هم عادلانه لارې چارې چمتو کيږي (القرضاوي، يوسف. ۲۰۰۱، ص: ۳۵).

**ټولنيز لاملونه**: په ډېرو ټولنو کې د ټولنيز عدالت نشتوالی د بېوزلو او شتمنو ترمنځ لوی واټن رامنځته کړی دی. دغه توپير د بېوزلۍ او وزګارۍ د زياتوالي لامل ګرځېدلی. د ټولنيز عدالت غوښتنه دا ده چې بايد د ټولنې هر غړي ته د عادلانه ژوند شرايط برابر شي او که دغه عدالت موجود نه وي، نو د بېوزلۍ کچه به لوړه شي. (العوضي، رفعت محمد. ۲۰۱۲، ص: ٦٨). په اسلامي ټولنو کې د ټولنيز تکافل کمزورتيا د بېوزلۍ او وزګارتوب لامل شوی دی. اسلام د ټولنيز تکافل نظام وړاندې کوي، چې د ټولنې غړي بايد يو له بل سره مرسته وکړي (الفنجري، محمد شوقي. ۲۰۰۵)، ص: ۴۵) . د نبي ﷺ په حديث کې راغلي: "مَثَلُ المُؤْمِنينَ فِي تَوادِّهِمْ وَتَراحُمِهِمْ كَمَثَلِ الجَسَدِ الواحِدِ..." ژباړه: ( د مؤمنانو مثال په خپل منځ کې د مينې، شفقت او رحم له مخې د يو واحد بدن مثال لري. چې کله د بدن يوه برخه درد ولري، نو ټول بدن په بې‌خوبۍ او تبه کې ورسره شريک وي) (بخاري ( ٦٠١١) ومسلم (٦٥٨٦). دا حديث د ټولنيز مسئوليت اهميت بيانوي، چې په ټولنه کې يوه او بل ته بايد په هوساينه او مرسته کې لاس ورکړو. که چېرې په ټاکل شوې اندازه ټولنيزتکافل عملی نه شي، نوبېوزله به له ګڼو نورو ستونزو سره مخ شي، چې د بېوزلۍ او وزګارتيا لامل ګرځي. په ځينو ټولنو کې د کار کولو ارزښت کم شوی دی. خلک يوازې پر ميراثي شتمنيو او نورو غيراغېزمنولارو تکيه کوي. دا ډول چلند د بېوزلۍ د زياتوالي او د وزګارۍ د پراختيا سبب کيږي، ځکه په ټولنه کې بايد د کار کولو فرهنګ پياوړې شي، څو اقتصادي پرمختګ رامنځته شي (شابرا، محمد عمر. (۱۹۹۳، ص: ٦٩).

**سیاسي او اداري لاملونه**: په سیاسي او اداري سیستمونو کې فساد شتمني د يوه ځانګړي اقلیت لاس ته ورکوي، چې له دې امله د ټولنې پراخې طبقې له بېوزلۍ او وزګارۍ سره مخ کیږي. په اقتصادي نظام کې فساد د شفافیت کمښت رامنځته کوي، چې د بېوزلۍ د پراختیا سبب کیږي (قطب، سید. ۲۰۰٦، ص: ٥٦). د اقتصادي سیستم کمزوري، په ځانګړې توګه د شفافو اقتصادي پالیسیو نشتوالی، د بېوزلۍ دوام ته لار هواروي. د ښه اقتصادي سیستم نشتوالی د پانګونې، کارموندنې او تولیدي فعالیتونو د کموالي لامل کیږي چې په پایله کې ببوزلي او وزګاري زیاتیږي. د اسلام اقتصادي نظام د ټولنیز عدالت، زکات، وقف او حلالو عایداتو ته لومړیتوب ورکوي. که دغه نظام په بشپړه توګه پلی نه شي؛ نو د اقتصادي ستونزو؛ لکه د بېوزلۍ او وزګارۍ د زیاتوالي امکانات زیاتیږي. د اقتصادي عدالت تامینولو لپاره د اسلامي اقتصاد اصول د ټولنې لپاره بنسټیز رول لري. د بېوزلۍ او وزګارۍ لاملونه، چې اقتصادي، ټولنیز او سیاسي اړخونه لري، ټولې هغه بنسټیزې ستونزې وړاندې کوي، که چیرې یې سم مدیریت ونه شي؛ نو په ټولنه کې بېوزلي او وزګاري تل پاتې ځای نیسي؛ خو د اسلامي اصولو پر بنسټ د شتمنیو عادلانه ویش، د سود پر ضد اقدامات او د ټولنیز تکافل پیاوړي کول؛ کولی شي د دې ستونزو د حل لپاره اغېزمنې لارې چارې وړاندې کړي. (السید محمد باقر. ۲۰۰٤، ص: ٥۹).

***اسلامي اقتصادي حللارې***

**زکات – د بېوزلۍ له منځه وړلو مهمه وسیله**: زکات د ټولنیز عدالت د پیاوړتیا لپاره یوه الهي وسیله ګڼل کیږي. الله تعالی په قرآن کې فرمايي: ﴿إِنَّمَا الصَّدَقَاتُ لِلْبېوزلياءِ وَالْمَسَاكِينِ...﴾ (التوبة: ٦٠). ژباړه: (بېشکه چې صدقات (زکات) یوازې د فقیرانو او مسکینانو لپاره دي). دا آیت د زکات د اصلي موخې، چې د بېوزلو او مسکینانو مرسته کول دي، څرګندوي. زکات نه یوازې د مال د پاکوالي لپاره؛ بلکې د ټولنیز عدالت د ټینګښت لپاره هم مهمه وسیله ده. دا د بېوزلۍ له منځه وړلو او د ټولنې غړو ترمنځ د عادلانه وېش لپاره یو عملي حل دی. (زیدان، عبد الکریم. ۱۹۹٤، ص: ۸۷). زکات د اقتصادي سیستم تعادل ساتي او د اقتصادي نظام په ټینګښت کې اساسي رول لوبوي. د زکات له لارې شتمني د شتمنو کسانو څخه بېوزلو ته لېږدول کیږي، چې دا په ټولنیز او اقتصادي تعادل ساتلو کې مرسته کوي (قحف، منذر. ۲۰۰۳، ص: ۴٥). کله چې په ټولنه کې شتمني ووېشل شي، دا د بېوزلۍ د کمښت او اقتصادي پراختیا لامل کیږي. د زکات له لارې شتمنۍ دوران پیدا کوي؛ چې په پایله کې یې ټولنه اقتصادي ځواکمنتیا پیدا کوي. د اسلامي هېوادونو لکه مالیزیا، سعودي عربستان او پاکستان تجربه ښيي چې د زکات اغېزمنه اداره د بېوزلۍ د کمښت لپاره ګټوره وسیله ده. دې هېوادونو په سمه توګه د زکات سیستم د پلي کولو له لارې خپل اقتصادي وضعیت ته وده ورکړې او د ټولنیز عدالت په برخه کې یې مثبتې

پایلې ترلاسه کړې دي. دا تجربه په دې ټینګار کوي چې د زکات د سم تطبیق له لارې؛ نه یوازې بېوزلي کمېدلی شي؛ بلکې د ټولنې اقتصادي او ټولنیز پرمختګ هم ترلاسه کېدلی شي (القري، محمد علي. (۲۰۱۰، ص: ۳۴).

**اسلامي تمویل او غیرسودي اقتصاد**: اسلامي اقتصاد د سود پر ضد مبارزه کوي او د سود پر ځای د بېلابېلو غیرسودي تمویلي میتودونو لکه مضاربت، مشارکت او مرابحه کاروي. دغه میتودونه د مال د حلالو لارو پراختیا ته وده ورکوي او د اقتصادي پرمختګ سبب کېږي. د سودي سیستم په ځای د اسلامي تمویل سیستم نه یوازې د بېوزلو لپاره فرصتونه رامنځته کوي، بلکې د ټولنې اقتصادي پرمختګ ته لارې هواروي. اسلامي تمویل د اقتصادي پراختیا او کارپنځونې لپاره یو اغېزمن او تل پاتې حل وړاندې کوي. اسلامي بانکونه او مالي ادارې د بېلابېلو تمویلي او پانګونې میتودونو؛ لکه مشارکت، مضاربت او مرابحې له لارې کاروبارونو ته پانګه برابروي. د دې سیستم په مرسته، نه یوازې د بانکدارۍ سیستم کې شفافیت رامنځته کېږي، بلکې د ټولنې د پرمختګ او اقتصادي پیاوړتیا لپاره هم ډېرې ګټې ترلاسه کېږي (Khan, M. A. (2003, p: 47) . د اسلامي اقتصادي سیستم د پلي کېدو تجربه په ځینو هېوادونو؛ لکه ایران، ترکیه او عربستان کې د اقتصادي پرمختګ سبب شوی دی. داسلامي بانکونو د تمویلي سیستم له لارې نه یوازې د بانکونو اقتصاد پرمخ تللی بلکېد بېوزلۍ د کمولو او ټولنیز عدالت د ټینګښت لپاره یې هم مهم رول لوبولی دی. دا تجربه ښیي چې اسلامي تمویل د اقتصادي پرمختګ لپاره یو ثابت او تل پاتې میکانیزم دی.

**د وقف نظام او اقتصادي پراختیا**: وقف د اسلامي اقتصاد یوه مهمه وسیله ده، چې د بېوزلۍ په کمښت کې اغېزمن رول لوبوي. وقف د ټولګټو پروژو لپاره یوه اوږدمهاله پانګونه ده، چې د ټولنې بېوزله طبقې ته د ژوند د ښه کولو فرصت برابروي. وقف د ښوونځیو، روغتونونو او د بېوزلو لپاره د مرستو د پروژو په جوړولو کې اساسي رول لري. د وقف له لارې، شتمني د خلکو ترمنځ د بې ساري او پرله پسې مرستې لپاره کارول کېږي. اسلامي حکومتونه مکلف دي چې وقف په منظم ډول اداره کړي. وقف د بېوزلو لپاره یوه ګټوره وسیله ده؛ ځکه چې د شتمنیو او سرچینو سم وېش او اداره کول د بېوزلو د ژوند کیفیت ښه کوي. د اسلامي حکومتونو په واسطه د وقف تنظیم باید د بېوزلۍ د کمښت لپاره اغېزمن او تل پاتې سیستم وګڼل شي، چې د ټولنې د اقتصادي پرمختګ لپاره لازمیاغیزمنتیا لري. د اسلامي تاریخ په اوږدو کې؛ لکه د عثماني خلافت، اندلس او عباسي دورو کې، وقف د بېوزلۍ له منځه وړلو لپاره ګټورې تجربې وړاندې کړې دي. په دې دورو کې د وقف له لارې د ټولنیزو خدمتونوپراختیا او بېوزلو ته د ژوند د ښه کولو فرصتونه برابر شول. دا تجربې ښیي چې د وقف اغېزمنه کارونه د ټولنیزې هوساینې

او اقتصادي پرمختګ لپاره یو پیاوړی بنسټ دی ( محمد بن أحمد. ۱۹۹۵، ص: ۴۶). اسلامي اقتصادي حللارې؛ لکه زکات، اسلامي تمویل او وقف د بېوزلۍ کمولو، اقتصادي پرمختګ او ټولنیز عدالت ټینګولو لپاره پیاوړې او اغېزمنې وسیلې دي. د اسلامي اصولو پلي کول، په ځانګړې توګه د سودي نظام پر ضد لاس پرکار کېدل، د اسلامي تمویل سیستم کارول او د وقف په مټ اوږدمهاله پانګونه، کولی شي د بېوزلۍ د کمښت او ټولنیز عدالت په برخه کې مثبت بدلونونه رامنځته کړي.

***د اسلامي اقتصادي نظام د تطبیق میتودونه***

**د کار زمینه برابرول**: اسلامي اقتصاد د کوچنیو کاروبارونو د پراختیا لپاره مناسب او تل پاتې حللارې وړاندې کوي. د اسلامي تمویل سیستم لکه مضاربت او مرابحه، نه یوازې د سودي قرضونو پر ځای د حلالې پانګونې فرصتونه برابروي، بلکې د اقتصادي پرمختګ لپاره د کوچنیو کاروبارونو ملاتړ هم کوي. د دې سیستم له لارې، پانګه د مشروع او اخلاقي لارو څخه ترلاسه کول، د کار ځایونه رامنځته کول او د اقتصادي فعالیتونو پراختیا شونې کېږي. د اسلامي اقتصاد بنسټ د اسلامي اخلاقو پر اساس جوړ شوی دی. د کارپنځونې پرمختګ یوازې د مالي ملاتړ نه، بلکې د اخلاقو په اساس هم پراختیا مومي. اسلامي اصول؛ لکه: امانتداري، صداقت او عدل د کارپنځولو لپاره قوي بنسټ جوړوي. دا اخلاق د مشروعو کاروبارونو ملاتړ کوي او د ټولنیز او اقتصادي پرمختګ لپاره زمینه برابروي. د قرض الحسن نظام د سودي پورونو پر ځای یوه غوره بدیله وسیله ده. د دې سیستم له مخې، بانکونه او مالي ادارې د سود پر ځای یوازې د قرض اخیستونکي سره مرسته کوي؛ چې هغه خپل کاروبار یا پروژې پیل کړي. دا کار د بېوزلۍ د کمولو، د اقتصادي پراختیا او د ټولنیز عدالتي سیستم د پراختیا لپاره اغېزمنه لار ده (علي محيي الدين. ۲۰۰۹، ص: ۱۲۰).

**د ټولنیز تکافل فعالول**: د اسلامي اقتصادي نظام د تکافل اساس په خیریه سازمانونو او وقفي بنسټونو ولاړ دی. د وقف او خیریه موسساتو ملاتړ د بېوزلو لپاره اوږدمهاله حللارې وړاندې کولای شي. د اسلامي حکومت او مؤسساتو هڅه باید دا وي، چې د خیریه کارونو او وقف پروژو ته وده ورکړي؛ څو ټولنیز عدالت او اقتصادي انډولتوب رامنځته شي. د وزګارۍ او بېوزلۍ د مخنیوي لپاره باید د بېوزلو او وزګارو کسانو لپاره روزنیز پروګرامونه جوړ شي. د اسلامي اقتصاد پر بنسټ، ښوونهاو روزنه د ټولنیز پرمختګ یوه مهمه برخه ده. حکومتونه او اسلامي موسسات باید دې ته پوره پاملرنه وکړي، چې څنګه بېوزلو ته د مهارتونو زده کړه، کارپنځونې څخه ملاتړ وکړي؛ څو دوی اقتصادي فعالیتونو ته برابر لاسرسی پیدا کړي ( زیدان، عبد الکریم. ۱۹۹٤، ص: ۴۵).

**د اقتصادي اصلاحاتو ترسره کول**: د اسلامي اقتصادي نظام یوه مهمه برخه د اداري فساد مخنیوی دی. فساد په اقتصادي سیستم کې بې عدالتي رامنځته کوي او د شتمنیو د غیر عادلانه وېش سبب ګرځي. د اسلامي حکومت مکلفیت دی، چې شفافې عدلي او قضایي ادارې جوړې کړي چې د فساد مخنیوی پرې وکړي او د شفافیت او انصاف حق هرچاته ورسیږي. د سودي نظام له منځه وړل د اسلامي اقتصادي نظام یوه مهمه اړتیا ده. سود د ټولنیز عدالت خلاف عمل دی او د بېوزلۍ د پراختیا لامل ګرځي. د اسلامي تمویل سیستم لکه مضاربت، ګډون او مرابحه د سودي نظام پر ځای غوره بدیلونه وړاندې کوي. دا سیستمونه د اقتصادي متوازن وېش او تل پاتې پرمختګ سبب کېږي. د زکات، وقف او غیرسودي تمویل سیستم تقویه کول د اسلامي اقتصادي نظام د اصلي بنسټونو څخه دی. د دې سیستمونو تقویه کول د اقتصادي ستونزو د حل لپاره اساسي او اغېزمنه لار ده. حکومتونه باید د زکات راټولولو سیستمونه ښه تنظیم کړي، وقف ته وده ورکړي او غیرسودي تمویلي پروژې پراخه کړي. دا عمل د بېوزلۍ کمولو، د اقتصادي پرمختګ او ټولنیز عدالت لپاره ګټور دی (أحمد بن عبد الحلیم. ۱۹۸۳، ص: ۲۳).

**د څېړنې موندنې**

۱. اسلامي اقتصاد پر عدالت ولاړ ارزښتي نظام دی، نه محض بازار محوره سیستم. دا موندنه ښیي چې اسلامي اقتصاد د عوایدو په مساوي وېش نه، بلکې په اقتصادي فرصتونو، تولید، تمویل او مصرف کې د ارزښت محوره عدالت غږ پورته کوي. دا عدالت یوازې د بازار د عرضې او تقاضا تابع نه دی؛ بلکې د شریعت د ارزښتي اصولو (لکه: العدل، رفع الحرج، دفع الضرر، و تحقیق المناط) تابع دی. که دا نظام په افغاني بانکدارۍ نظام کې پلی شي؛ نو د بانکونو تمرکز به د سرمایه‌دارۍ پر ځای د مؤکلینو پر ګټې ولاړ وي، چې د بېوزلۍ، وزګارۍ او ربوي فشار مخه به خامخا ونیسي.

۲. د اسلامي اقتصاد ټولنیز بُعد د بېوزلۍ د کمښت او وزګارۍ د حل لپاره اغېزمن میکانیزم وړاندې کوي. زکات، صدقه، قرض حسن، وقف او تکافل د هغو مالي میکانیزمونو له جملې څخه دي، چې له یوې خوا د بېوزلۍ د کمښت بنسټیزه وسیله ده او له بلې خوا د اقتصادي ګډون سبب کېږي. د افغانستان په څېر ټولنه کې که د زکات او وقف ادارې رامنځ ته شي او له بانکي نظام سره ونښلول شي؛ نو د وزګارۍ، بیوزلۍ او بې‌سرپناهۍ پر وړاندې یو اغېزمن نظام رامنځته کېدای شي؛ دا چاره به د حکومت د فشار بار هم راکم کړي.

۳. اسلامي تمويلي وسايل د اقتصادي پراختيا لپاره يو بديل او مشروع نظام جوړوي؛ مضاربت، مشارکت، سلم، استصناع، مرابحه او اجاره هغه غير ربوي تمويلي توکي دي، چې هم شرعي مشروعيت لري او هم د سوداګريزو پروژو د پياوړتيا وسيله ده. د دې وسايلو بنسټ "د خطر شراکت، د ګټې شراکت او عدالت في العقد" دی. دا وسايل که په بانکي پاليسيو کې ځای پر ځای شي، د غير رسمي تمويل بازار ته مشروع بديل وړاندې کوي؛مثلاً، مضاربت د کوچنيو متشبثينو لپاره، سلم د کروندګرو لپاره او مرابحه د استهلاکي تمويل لپاره مناسب او کارنده وسايل دي.

۴. د اسلامي اقتصادي اصولو تطبيق د بنسټيزو قانوني او اداري اصلاحاتو غوښتنه کوي. دا موندنه ښيي چې يوازې فکري تبليغ نه، بلکې د قانون‌جوړونې، مالي پاليسۍ او نظارتي سيستمونو اصلاح هم اړينه ده. شريعت‌محوره اقتصاد ته داسې حقوقي چوکاټ پکار دی چې د ربوي قراردادونو مخنيوی وکړي، د مشارکتي عقدونو اسنادو ته اعتبار ورکړي او د زکات او وقف لپاره ځانته اداره او بوديجه ولري. د افغانستان د بانکدارۍ قانون بايد د اسلامي مالي ابزارو پراخ تعريفونه، د سود د مخنيوي مشخص احکام او د اسلامي بانکدارۍ خپلواک نظارتي ارګان رامنځته کړي.

۵. د اسلامي اقتصاد ارزښت‌محوره فکري چوکاټ د فرد، بازار او دولت ترمنځ توازن رامنځته کوي. دا موندنه څرګندوي چې اسلامي اقتصاد نه دولت مطلق حاکم ګڼي (لکه سوسياليزم)، نه بازار بې‌مهاره پرېږدي (لکه ليبراليزم)، بلکې د دولت د نظارت، د بازار د فعاليت او د فرد د مسؤليت ترمنځ يو اخلاقي، حقوقي او ارزښتي توازن رامنځته کوي. د اسلامي بانکونو، د زکات دفترونو او د وقف موسسو د همغږۍ له لارې دا توازن عملي کېدای شي، چې دولت ته نظارت، بازار ته فعاليت او فرد ته د الله تعالی د رضا لپاره ابتکار برابروي.

۶. اسلامي اقتصاد د ټولنيز اعتماد، د معاملاتو شفافيت او اخلاقي کاروبارونو اساس جوړوي. د اسلامي معاملاتو اصول (لکه رښتنولي، امانت او له ربا او غرر څخه ځان ساتنه الصدق) نه يوازې حقوقي ضمانتونه برابروي، بلکې ټولنيز باور، سوداګريز اعتماد او شفاف اقتصادي مناسبات تضمينوي. د افغانستان په ټولنه کې، چې ډېری معاملې غير رسمي او د اعتبار وړ نه دي، د اسلامي اقتصاد اصول د بازار شفافيت ته لاره هواروي. که د مضاربتي، مشارکتي او استصناعي قرار دادونو معيارونه تعريف شي، دا به د پانګوالو او ګټه اخيستونکو ترمنځ اعتماد پياوړی کړي.

۷. پورته موندنې د مقالې له نظرياتي چوکاټ (فقهي اصولو او اسلامي اقتصادي نظريو) سره ژوره همغږي لري، ځکه فقهي اصول؛ لکه :العدل، دفع الضرر، جلب المصلحة، سد الذرائع، و تحقيق المناط د هرې موندنې تحليل ته شرعي بُعد ورکوي او د اسلام د اقتصادي نظام اصول او اساسات؛

لکه :حُرمة الربا، مشروعیت الشراکة، تشجیع التکافل، و حفظ المال پر بنسټ د تمویلي او ټولنیزو ابزارو تحلیل او شننه په مقاله کې واضح ده. که په افغانستان کې تطبیقي اړخ غوره کړي؛ نو یقینا چې د بېوزلۍ او وزګارۍ ستونزه به تر ډېره بریده حل شي.

**بحث او مناقشه**

ددې څېړنې علمي تحلیل او موندنې ښیي چې اسلامي اقتصادي نظام نه یوازې یو ارزښتي چوکاټ وړاندې کوي، بلکې د معاصر اقتصاد د سترو ننګونو؛ لکه بېوزلي، وزګاري، طبقاتي نااندولتوب او ربوي تمویل په وړاندې عملي او جوړونکې حل‌لارې وړاندې کوي. دا موندنه له لومړنۍ څېړنې سره مستقیمه اړیکه لري، چې د اسلامي اقتصاد د تطبیقي اغېزمنتوب ارزونه ده. د مثال په ډول، د ټولنیز عدالت په اړه د اسلامي اقتصاد تحلیل یواځې د عوایدو پر بیا وېش نه محدودېږي؛ بلکې د اقتصادي فرصتونو د عادلانه توزیع، د اړتیاوو لومړیتوب او د تولید د حلالو لارو د تحلیل لپاره مفصل چوکاټ لري، چې دا په معاصر اقتصادي سیستم کې لږ لیدل کېږي (شابرا، ۱۹۹۳؛ القرضاوي، ۲۰۰۰). د دې تحلیل له مخې، اسلامي اقتصاد د ټولنیز مسؤلیت اصل ته ځانګړې پاملرنه کوي، چې د وقف، زکات، قرض حسن او نورو غیر ربوي وسایلو له لارې د ټولنې د کمزورو طبقو ملاتړ تضمینوي. دا موندنه له زیدان (۱۹۹٤) او قحف (۲۰۰۳) سره مطابقت لري، چې د زکات او اسلامي تمویل د ټولنیزو اغېزو یادونه کوي.

د موندنو علمي تفسیر او فقهي تحلیل د فقهي اصولو لکه؛ (الضرر یزال) پر بنسټ، اسلامي تمویل د سود پر ځای مشارکتي او مضاربتي جللارې وړاندې کوي، چې د خطر له لېرد پرته عادلانه وېش یقیني کوي. دا تحلیل د ابن تیمیه (۱۹۸۳) او القره‌داغي (۲۰۰۹) څېړنو سره سمون لري. ((سد الذرائع)) د ربوي کړنلارو مخنیوي ته فقهي دلیل وړاندې کوي، چې دا هم د اسلامي شریعت له موخو سره اړخ لګوي. همدارنګه، ((تحقیق المناط)) د دې فرصت برابروي؛ چې شریعت د هر عصر او شرایطو له اړتیاوو سره سم پلی شي، چې دا د شاطبي (۱۹۹۷) نظریاتو ملاتړ کوي.

د نورو څېړنو سره پرتله د اسلامي اقتصاد د عدالت مفکوره له "کینزي نظریې" سره توپیر لري ؛ په داسې حال کې چې کینزي په اقتصاد کې دولت ته اساسي اواصلي رول ورکوي (Keynesian interventionism). اسلامي اقتصاد ټولنې، افرادو او بنسټونو ته هم د مسؤلیت سهم ورکوي. دا توپیر د فنجري (۲۰۰۵) او القري (۲۰۱۰) د څېړنو له لارې هم مستند شوی. همداراز، د شابرا (۱۹۹۳) په څېړنه کې اسلامي اقتصاد د بېوزلۍ د حل لپاره یو بدیل سیستم بلل شوی، چې له معاصرې بانکدارۍ

سیستم سره د تضاد پر ځای، تکمیلي بڼه غوره کوي. دا نظر بیا له همدې څېړنې سره یو نظري او همغږي لري.

له ټولو تحلیلونو څخه څرګندیږي چې اسلامي اقتصادي تفکر؛ یو ارزښتي، انساني او عدالت‌محوره سیستم وړاندې کوي. د بېوزلي او نااندولتوب د حل لپاره د شریعت موخې د تطبیق اغېزمنه وسیله ده. د تولید، توزیع او تمویل په برخه کې هم فقهي او اقتصادي مشروع بدیلونه لري او که د دقیق حقوقي جوړښت او مؤسسي پلان له لارې تطبیق شي، کولای شي چې د افغانستان په څېر ټولنه کې یو عادلانه، باثباته ، انساني او بشرپال اقتصاد رامنځته کړي.

**پایله**

۱. اسلامي اقتصادي نظام د بېوزلۍ او وزګارۍ د کمولو لپاره داسې اصول وړاندې کوي چې د سرچینو عادلانه وېش، تولید ته انګېزه او د ټولنیز عدالت تأمین تضمینوي، کوم چې په معیاري اقتصادي نظامونو کې نه لیدل کېږي.

۲. د زکات، وقف او صدقو د مالي میکانیزم له اغېزمن تطبیق سره، د بې‌کارو او محتاجو خلکو لپاره د عاید با ثباته سرچینې برابرېږي، چې د دولت پر بودیجه فشار کموي او د غیر رسمي اقتصاد کچه راکمولی شي.

۳. د اسلامي تمویل وسیلې (لکه مضاربت، مشارکت او اجاره) د پانګوالو او کارکوونکو ترمنځ د خطر او ګټې عادلانه وېش تضمینوي، چې د تولید د زیاتوالي، د پانګې د جریان او د کاري فرصتونو د زیاتوالي سبب کېږي.

٤. اسلامي بانکداري د سود پر ځای د مشروعو معاملاتو له لارې تولید ته انګېزه ورکوي، د پانګې د احتکار مخه نیسي او د اقتصاد فعاله برخه‌والۍ ته زمینه برابرولی شي.

۵. د وقف او خیراتي مؤسسو سیستم که له عصري مدیریت، شفافیت او د اړتیاوو پر بنسټ پلي شي، کولی شي تل پاتې ټولنیز خدمتونه (لکه ښوونه، روزګار، روغتیا) برابر کړي، چې د وزګارۍ اصلي لاملونو ته مستقیم ځواب ورکوي.

٦. د اسلامي اقتصاد پراخ تطبیق نه یوازې د اخلاقي اقتصاد بنسټونه پیاوړي کوي، بلکې د ټولنیز تضاد، طبقاتي نا انډولتوب او اقتصادي انحصار پر ضد تل پاتې منظم توازن رامنځته کوي.

۷. اسلامي مالي بازارونه که په فقه‌المعاملات کې مراعات شي، کولی شي پانګوالو ته مشروع فرصتونه برابر کړي او کوچني متشبثین (Entrepreneurs) د ابتکار او نوښت لپاره وهڅوي، چې دا کار د وزګارۍ د له‌منځه وړلو لپاره یو کلي حل ګڼل کېږي.

۸. د اسلامي بیمې (تکافل) نظام د فردي خطرونو مدیریت ته مشروع چوکاټ ورکوي او د وزګارۍ په حالت کې د خلکو لپاره مالي ضمانتونه رامنځته کوي، چې دا کار د بېوزلۍ د تسلسل مخه نیسي.

۹. د اسلامي اقتصادي نظام د پلي کېدو لپاره د دولت، خصوصي سکتور او مدني ټولنو ترمنځ همغږي او تقنیني ملاتړ اړین دی، چې د وزګارۍ د حل لپاره چټک، تل پاتې او تخنیکي بنسټونه رامنځ ته شي.

۱۰. د اسلامي اقتصاد له مخې، انسان د تولید، مسوولیت او خلاقیت لپاره پیدا شوی؛ نو د انساني پانګې پراختیا، حرفوي روزنې او نوښتي زده کړو تمرکز د اسلامي نظام له اصولو سره سم یو تخنیکي حل دی، چې د وزګارۍ په له منځه وړلو کې مستقیم اغېز لري.

## سپارښتنې

۱. د زکات او وقف مؤسساتو فعاله کول او دولتي ملاتړ، په اسلامي اقتصاد کې زکات یو اجباري مالي عبادت دی، چې د ټولنیز عدالت تأمین، بېوزلۍ ختمولو او د وزګارو تمویل لپاره قوي وسیله ده. دا سپارښتنه دا ایجابوي چې دولت د زکات لپاره ځانګړې اداره جوړه کړي. د عادلانه راټولولو، شفاف وېش او پراخې اقتصادي پروژې رامنځته کړي، چې له لارې یې بېوزله خپلواکي ترلاسه کړي. همداراز، د وقف له سیستم نه باید د ښوونې، مهارتونو او اقتصادي فرصتونو د پراختیا لپاره ګټه واخیستل شي.

۲. اسلامي تمویلي میکانېزمونه لکه مضاربت، مشارکت او قرض الحسن ته پراختیا ورکول. د بېوزلۍ او وزګارۍ یو عمده حل دا دی چې بې وسه او وزګار خلک اقتصادي جریان ته داخل کړل شي. اسلامي بانکونه او خیریه بنسټونه باید د مضاربت، مشارکت او قرض الحسن له لارو څخه د کوچنیو کاروبارونو لپاره له سوده خالي تمویل برابر کړي. دا تمویل باید د مهارت روزنې، کورني صنعت او کرنې برخو ته واړول شي، چې بېوزلي نه یوازې کنټرول بلکې له منځه یوسي.

۳. د مهارتونو پراختیا او حرفوي ښوونې څخه د اسلامي اقتصاد قوي ملاتړ؛ اقتصاد د تولید، کار او مهارت ارزښت ته توجه کوي. نو سپارښتنه دا ده چې اسلامي بنسټونه او حکومتونه د حرفوي ښوونې، فني مهارتونو او کارپنځونې روزنې پر پراختیا تمرکز وکړي. د وقف او زکات فنډونه باید د بېوزلۍ او وزګارۍ د کمولو لپاره د حرفوي روزنیزو مرکزونو په جوړولو کې وکارول شي.

۴. د عادلانه عوایدو وېش او د اقتصادي سرچینو بیا تنظیم. بېوزلي زیاتره وخت د عوایدو د ناعادلانه وېش له امله رامنځته کېږي. اسلامي اقتصاد د عدالت، تکافل او مسولیت پر اصل ولاړ دی، نو سپارښتنه دا ده چې دولتونه باید د مالیاتو او اخراجاتو سیستم د اسلامي اقتصاد پر معیارونو برابر کړي. د احتکار او ربا مخه ونیسي او اقتصادي سرچینې په عادلانه توګه ووېشي ، څو په ټولنه کې څوک محروم پاتې نه شي.

**مننه**

مننداوی یم له ټولو هغو اکاډیمیکو او د څېړنیزو ادارو له مسؤولینو څخه چې مونږ ته یې دڅېړنې زمینه برابره کړې او په څېړنه کې یې له مونږ سره خپلې علمې سلا او مشورې شریکې کړې دي؛ څو دغه څېړنه د علمي څېړنو هغه بځرکي ته ورسېدو چې د حقیقت یوه برخه یې راوسپړله او گرانو لوستونکوته یې وړاندې کړه.

**په څېړنه کې د لیکونکو ونډه**

په دغه څېړنه کې له بنده سره کوم علمي شخصیت یا څېړونکی برخه نه لري.

**د منفعتونو تضاد**

په دغه څېړنه کې د منفعتونو هیڅ ډول تضاد نشته. مقاله او څېړنه د بنده شخصي نوښت، زیار او ذهني عصاره ده.

**اخځلیکونه**

القرآن الكريم

ابن تيمية، أ. (١٩٨٣) . *الحسبة في الإسلام أو وظيفة الحكومة الإسلامية* .بيروت: دار الكتب العلمية.

ابن رشد، م. (١٩٩٥) . *بداية المجتهد ونهاية المقتصد* .بيروت: دار الكتب العلمية.

ابن عابدين، م. أ. (٢٠٠٣). *رد المحتار على الدر المختار* .بيروت: دار الفكر.

البخاري، م. (١٩٨٧). *الجامع الصحيح المسند من حديث رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه (صحيح البخاري)* . استانبول: دار الطباعة العامرة.

البوطي، م. (١٩٩٨). *فقه الاقتصاد الإسلامي* .دمشق: دار الفكر.

زيدان، ع. (١٩٩٤). *الزكاة ودورها في معالجة المشكلات الاقتصادية* .بيروت: مؤسسة الرسالة.

شابرا، م.ع. (١٩٩٣). *البپوزلي في العالم الإسلامي: أسبابه ومظاهره وعلاجه في ضوء الإسلام* .واشنطن: المعهد العالمي للفكر الإسلامي.

الشاطبي، ا. (١٩٩٧). *الموافقات في أصول الشريعة* .بيروت: دار الكتب العلمية.

الصدر، م. ب. (٢٠٠٤). *اقتصادنا* .بيروت: دار التعارف.

العوضي، ر. ي. (٢٠١٢). *الاقتصاد الإسلامي: أصوله، نظرياته، نظامه المالي* .القاهرة: دار السلام.

الفنجري، م. ش. (٢٠٠٥). *تمويل المشروعات الصغيرة في الاقتصاد الإسلامي* .مصر: دار الوفاء.

قحف، م . (٢٠٠٣). *التمويل الإسلامي ودوره في التنمية* .جدة: المعهد الإسلامي للبحوث والتدريب.

القرضاوي، ي. (١٩٩٩). *دور الزكاة في علاج المشكلات الاقتصادية* .القاهرة: مكتبة وهبة.

القرضاوي، ي. (٢٠٠٠). *فقه الزكاة* .بيروت: مؤسسة الرسالة.

القرضاوي، ي. (٢٠٠١). *الإسلام ومحاربة البپوزلي* .القاهرة: مكتبة وهبة.

القره داغي، ع.ع. (٢٠٠٩). *بحوث في الاقتصاد الإسلامي* .بيروت: دار البشائر الإسلامية.

القري، م. ع. (٢٠١٠). *التنمية الاقتصادية في المنظور الإسلامي* .الدمام: دار ابن الجوزي.

قطب، س. (٢٠٠٦). *العدالة التولنيزة في الإسلام* .القاهرة: دار الشروق.

مسلم بن الحجاج. (٢٠٠٦). *المسند الصحيح المختصر من السنن بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم (صحيح مسلم)* .بيروت: دار إحياء التراث العربي.

الندوي، أ. (١٩٨٩). *الأمة الإسلامية لاملونه النهوض والسقوط* .بيروت: دار القلم.

Khan, M. A. (2003). *Islamic Economics and Finance: A Glossary*. London & New York: Rutledge